څوک چې ماته د هغه څه ضمانت راکړي چې د دواړو ژامو په منځ کې ده (ژبه) او د هغه څه چې د دواړو پښو تر منځه دي (عورت) نو زه به ورته د جنت ضمانت ورکړم

له سهل بن سعد رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: "څوک چې ماته د هغه څه ضمانت راکړي چې د دواړو ژامو په منځ کې ده (ژبه) او د هغه څه چې د دواړو پښو تر منځه دي (عورت) نو زه به ورته د جنت ضمانت ورکړم".

[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوو شيانو په اړه خبر ورکوي، که چېرته پرې مسلمان ټينګ پاتې شي نو جنت ته به داخل شي. لومړی: له هغو خبرو څخه د ژبې ساتل چې الله تعالى پرې غصه کيږي، دوهم: له فحاشۍ څخه د شرمګاه ساتنه. ځکه چې په دې دوو غړو سره زياته ګناه تر سره کيږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3475

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee